محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۹/۱۸

# ته...

## لنډه قصه

ليري، ډېر ليري، د دښتو د وروستی لاري تر پايه هم ها خوا، د کلي د ختينو کوروتو په يوه کور کي يو سپين ږيری شاعر پر سرې، زړې، شوړېدلي کمبلي څلور زانو ناست وو. مخ ته ئې زړه کتابچه، پخوانی شين قلم، يو سپين څراغ پروت وو. د څراغ ژېړې لمبې هم له ده سره کتابچې ته کتل. دواړه د غزل د مطلعې په فکر و خط خطي پاڼي ته ور ټيټ ول. شعر هم هلته وو، د دوی تر منځ په چوپتيا کي...په انتظار. شعر د هغي ښځي په اړه چي ده ټول عمر شعرونه ورته ليکل، د ده د ژوند مېرمن چي پوره دوې شپې دمخه له دې کوره نوره تللې وه.

ډېره ليري هم نه وه تللې. د کلي له وراني کلا ها خوا، د څو فوټو تازه را کښل سوو خاورو لاندي، په هديره کي ئې خپله درېيمه شپه تېروله.

سپين ږيري په ږيره کي لاس تېر کړ. په دې ډکه کتابچه کې چي تر دې دمه د ميني شعرونه ول، په آخره صفحه کې اوس مرثيه بايد وليکي.

قلم ئې پورته کړ.د غره له تيارو څخه د چغال انګولا وخته! لاس ئې ودرېدی. د ختين دېوال په منځ کې هغي وړې کړې کړکۍ ته وکتل چي د ښيښې پر څنډو ئې ګل مښتی وو.

تر دې ښيښه ئې دباندي وکتل. هيڅ نه ښکارېدل. نه کلی، نه لار. خپله غر هم په توره شپه کي ورک وو. څو شيبې همداسي پاته سو.

د څراغ لمبه په رپېدو سوه. لمبه به يوې خوا ته کږه سوه، ژر بې ځان راټول کړ، يو ځل به جګه سوه، بيا به ټيټه، لکه يو بل خسته وجود چي د نهامېدو په حال کي وي. سړي څراغ ته وکتل، بيا ئې پاڼي ته. قلم ئې پر کښېښود.
و ئې ليکل:

ته...

يوه اوښکه نېغه پر همدې کلمې ور ولوېده.

رنګ خپور سو. لکه د ټکي په شنه وينه کي چي توري خپله ډوب سوي وي.«ته» نوره کلمه نه وه، پر خالي پاڼي د شنه رنګ يو کوچنی زخم وو.

د چابک په خپل دوړن لستوڼي سترګي پاکي کړې. پر لستوڼي ئې لا د هغه پټي خاوره پرته وه چي ټوله ورځ ئې کچالو ترې را ايستلي ول.

يو څه وخت ئې خپلو لاسونو ته کتل. چاودلي، په خاورو، له ګونجو ډک لاسونه. بيا ئې په کوټه کي سترګي وګرځولې. درې د ونو پنډي تنې له مځکي تر چته رسېدلي او د کور بام ئې پر سرو نيولی وو. د يوې تنې څنګ ته د هغې کالي په يوه سپين خامک سوي ټوکر کي پېچلي پراته ول.دا ټوکر هغې پخپلو لاسونو ګلدوزي کړي وو. ده ئې هر ګل پېژندی.

بيا پر کتابچه ور کوږ سو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

باید ئي لیکلي وای. په کوګل کي ئي ډېر داسي څه پاته ول چي نور ئي زړه سینه د ساتلو وړ نه وه.
قلم ئي پاڼي ته سم کړ:

ته، یوازي ته...

دا ځل اوښکه یوه نه وه، نه دوې وې...

«ته» خپره سوه.«یوازي» وغځېده، اوږده سوه.

نیمګړې جمله وبهېده. «ته» په «یوازي» کي ورګډه سوه...

مخ ئي په بل لستوني پاک کړ. پر هغه د چرګو د کوډلي وچه خاوره پرته وه. څو ورځي مخکي ئي جوړه کړې وه، لس چیچیان تازه له هګیو راوتلي ول، ډېر تور او دوه نسواري د خپلي مور په شان.

سړي چت ته وکتل. د ونو د ډډونو اوه کتارونه ول، او له یوه ځایه د وینه وو خوړلي لرګي وړه براده راپرېوته. د چت تېرانو ته له کلونو کلونو وینه وو په چوپه چوپایي کي خوله ور اچولي وه.

نور نو د څراغ د لمبي سر په ځړېدو سو. دا ځل ئي لمبه ډېره وړه سوه.

قلم د شاعر په لاس کی ځان ټینګ کړ، لکه د څراغ په اشارې چي پوه سوی وي. تر څو چي د پاڼي تر سینې رسېدی، د څراغ سترګه پټه سوه. له کوټي څخه پلیتې نور له ځانه سره د څراغ تل ته یو وړ.

سپین‌ږیري په تیاره کي کتابچه وترله. قلم ئي د خپل شنه واسکټ په څېرې جېب ننیست، پرکمبلي وغځېد، سر ئي پر ژړ اوږده ګردي بالښت کښېښود او کتابچه ئي تر بازوګانو لاندي پر سینه ټینګه ونیول.

لیري په دره کي د چغال بله، تر اولي کراره انګولا پورته سوه. په کوډله کي چرګوړي د خپلي مور تر وزرو لاندي بیده ول، په هدیره کي هغه، او په کتابچه کي «یوازي ته» شعر...

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ